PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسي

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای پیغمبره! د خپل رب د لیارې په لور په حکمت او نیک اسلوب بلنه وکړه. او په خورا نیکه او غوره توګه ورته خپل هدف واندی کره. خکه چي ستا رب ته ښه معلوم دی چي څوک دهغه له لیارې نه اووښتي او څوک په سمه روان دی

(النحل: ۱۲۵)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۳۷ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د سلواغې لومړۍ د ۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الاول ۲۰ مه د۲۰۱۴ م د جنوری ۲۱ مه

افغان حکومت وايي د کابل په وروستي حمله کې د بهرنيو استخباراتو لاس و

پدې پېښه کې د اته افغانانو سربېره درې امريکايان، دوه برېتانويان، دوه کاناډايان، په افغانستان کې د پيسو د نړيوال صندوق رييس او د رستورانت لبناني مالک ووژل شوي

کابل، رسنۍ:
افغان حکومت وايي چې؛ په کابل کې پر يوه لبناني رستوران په حمله کې د بهرنيو استخباراتو لاس و.
په دې اړه د جمهوري رياست له خوا په خپاره شوي بيان کې که څه هم د کوم ځانګړي هېواد يادونه نه ده شوې خو داسې ښکاري چې د دې حملې تور ښايي بياهم پر پاکستان لګول شوی.
د امنيت شورا په غونډه کې د کابل د وزير اکبرخان مېنې په خونړۍ حمله کې بهرني استخبارات په لاس لرلو ګرم وبلل شول.
د تېرې جمعې ورځې په ماښام د کابل په وزير اکبرخان سيمه کې پر يوه رستوران په وسله واله انتحاري حمله کې يوويشت کسان چې ديارلس تنه يې بهرنيان وو، ووژل شول. پرلبناني رستوران د بريد مسووليت وسله والو طالبانو ومانه.
د جمهوري رياست د مطبوعاتي دفتر په بيان کې د دې حملې تور پر کوم ځانګړي هېواد يا استخباراتي ادارې نه دی لګول شوی ... (ص ۴)

وزرای خارجه ۲۸ کشور اروپا در مورد افغانستان گفتگو می کنند

کابل، رسانه ها:
وزرای خارجه ۲۸ کشور عضو اتحادیه اروپا وضعیت افغانستان را در آستانهء برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ماه اپریل و خروج نیرو های ناتو از این کشورمورد بررسی قرار می دهند.
مسوولان (NGO) با سازمان های غیر دولتی آلمان امیدوار اند که شورشیان طالب فعالیت های امداد رسانی و نظامی را به اشتباه نگرفته، بر کارمندان ادارات کمک رسانی در افغانستان حمله نکنند.
به نوشتهء گزارش یوراکتیف اتحادیه اروپا خروج نیرو های خارجی از افغانستان، فعالیت سازمان های غیر دولتی را ساده تر می سازد تا اهداف ملکی شان را در افغانستان دنبال کنند. زیرا در کنار نیرو های امنیتی ناتو کارمندان کمک رسانی محلی به طور متداوم مورد هدف حملات گروه های تندرو قرار می گرفتند.
سازمان های کمک رسانی برای جلوگیری از این حملات در مناطق که جنگ جریان دارد، خواستار آن شدند که ... (۴ مخ)

معظم ملک:

بریتانیا به تعهدات اش در افغانستان پابند خواهد ماند

کابل، رسانه ها:
مقام های بریتانیایی می گویند اگر توافقنامهء امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن به امضا برسد یا نه، به تعهدات شان در قبال افغانستان پابند خواهند بود.
اما سرپرست ادارهء بین المللی انکشافی دولت بریتانیا برای افغانستان و پاکستان به روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت که این توافقنامه برای آیندهء افغانستان بسیار مهم است.
بریتانیا دو سال پیش در کنفرانس بین المللی توکیو در مورد افغانستان کمک ۱۷۵ میلیون پوند را در جریان پنج سال آیندهء برای این کشور تعهد نمود.
مقام های بریتانیایی می گویند که در هر نوع شرایط ... (ص ۴)

کرستل:

امنيتي تړون ته همدا اوس اړتيا ده

کابل، رسنۍ:
په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو پخوانی امريکايي قوماندان جنرال سټنلي مک کريسټل، چې ۳۴ کاله يې په پوځ کې خدمت کړی، وويل، افغانستان او امريکا دېته اړتيا لري چې په خپلو کې هر څومره ژر چې ممکنه وي، امنيتي تړون لاسليک کړي.
ده وويل دغه تړون به افغانانو ته د دوی د راتلونکي لپاره ډاډ په برخه کړي.
ده د دوشنبې په ورځ د امريکا يوه ټلويزيون ته وويل: د راتلونکي لپاره بې باوري شته، دوی (امريکايي چارواکي) دېته ... (۴ مخ)

آیا حادثهٔ اخیر وزیر اکبرخان مینه آغاز رقابتهای جدید استخبارات منطقوی نیست؟

فدا محمد فایض

این حقیقت را نباید فراموش کنیم که بازی استخباراتی در افغانستان بعد از ۲۰۰۱ بیش از پیش پیچیده شده است؛ زیرا علاوه بر کشورهای عضو ناتو و یا کشورهای بیرون از ناتو که در افغانستان حضور نظامی دارند، کشورهای دیگر منطقه با آنکه در افغانستان حضور نظامی ندارند؛ ولی از لحاظ استخباراتی حضور دارند.
گرچه بعد از وقوع یک حادثه افکار عمومی جامعهٔ ما بسوی تنها کشورهای همسایه معطوف میگردد، گرچه هدفم این نیست که افکار عمومی را ازین مسأله بسوی دیگر معطوف دارم؛ ولی اینکه ما هر مسأله را به همان یک جهت نسبت دهیم، خیلی از حقایق را از نظر ما پنهان میسازد.
(ص ۲)

امريکايي پوهنتون او فکري نيوال

ليکنه: شريف عبدالعزيز الزهيري
ژباړه: حکمت امرخيل

(۳ مخ)

کندهار کې د آيساف ځواکونو پر اډې ډله ييز بريد شوی

کندهار، رسنۍ:
د کندهار ولايت سيمه ييز چارواکي وايي، چې پرون له غرمې وړاندې نهو تنو ځانمرګي بريد کوونکو ددغه ولايت په ژړې ولسوالۍ کې د آيساف ځواکونو پر اډې ډله ييز بريد کړی دی.
د ژړۍ ولسوالۍ ولسوال جمال آغا بخدي سره به خبرو کې پېښه تاييده کړې او ويلي يې دي، چې دغه بريد ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

دا مبهم حالت به تر څو روان وي؟

په افغانستان کې عجیب او غریب حالت حاکم دی، هیڅوک په اصل واقعیت نه پوهېږي، نه سلامت لورې معلوم دی نه ملامت، نه د افغانستان دښمن څرگند تعریف لري او نه هم دوست. که ډېری وگړي د افغانستان مخالف وسله وال ځواکونه ملامتوي؛ نو بیا ډېری نور وگړي امریکایانو ته د ملامتۍ گوته نیسي؛ خو د افغانستان د دولت په اړه هم د ډېرو وگړو زړونه ډک دي او په چارواکو کلکه نیوکه کوي چې دوی د غلا، بدۍ، غصب، قوم پالنې، تعصب، خیانت او ... پرته بل څه نه پیژني، د قانون ماتونې کوم لوی جرم چې حکومتي مشران کوي د ولس جرایم په سمندر کې د اوبو څاڅکی هومره هم ورسره نشي پرتله کیدلې.

یقیني خبره ده چې کله د یو هېواد سیاسي، عدالتي، اجتماعي، اقتصادي، داخلي او بهرني تگلاره او نقشه دومره مبهمه، تته او ناڅرگنده وي؛ نو ولس یې هم پاشلې او متفرق دریځونه خپلوي، ددې پرځای چې د خپلو مسایلو او ستونزو د حل په اړه یو دریځ او یو تگلاره خپله کړي گڼ دریځونه او گڼې تگلارې غوره کوي؛ چې همدا کار د هېواد د بې ثباتۍ او ناامنۍ لوی بنسټ تشکیلوي، څکه چې د هېواد استحکام او ثبات د ولس له همغږۍ او یووالې سره مستقیمه اړیکه لري؛ خو چې ولس پخپلو کې پاشلې او تیت پرک وي؛ نو دهغوی مادي او معنوي ځواک هم د اوبو په سر ولاړ د څگونو په څېر بې اهمیته کېږي. د بېلگې په توگه له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه د افغانانو دریځ یو ډول نه دی، نه سیاسي مشران په یوه خوله دي او نه هم د پارلمان او مشرانو جرگی غړي، څوک یې حمایت کوي او څوک یې مخالفت، همداراز له مخالفینو سره د سولې په اړه هم یو دریځ نه تر سترگو کېږي. ځینی له مخالفینو سره سوله اړین او مهم بولي؛ خو ځینی بیا کلک مخالفت ورسره ښکاره کوي.

ځینی په افغانستان کې د جگړې د اوږدېدو اصلي عاملین امریکایان بولي او ځینی حکومتي چارواکي چې تراوسه لږ تر لږه د یوی شفافی حکومتوالۍ په قایمولو او د یو ثابت او روښان دریځ پر خپلولو هم نه دي قادر شوي چې همدغه کار پردیو هېوادو ته د لاسوهنې او مخالفینو ته د جگړې د اوږدولو زمینه برابره کړې ده، دغه گونگ او غیر یقیني حالت د افغانستان د عام ولسي وگړو حوصله بالکل ماته . او لاره گودره ترینه ورکه کړې ده، په دې نه پوهېږي چې له چاسره لاړ شي، او د چا ومني؟

د افغانستان عام ولسي وگړی کلکه اندېښنه لري چې که حالت همداسې وي او د ابهام دغه تورې تیارې وریځې د آسمان له څنډونه لېرې نه کړی شي؛ نو خدای مکړه افغانستان به له خطرناکو عواقبو سره لاس او گریوان شي څکه چې په داسې حالاتو کې یوازې او یوازې د افغانستان دښمنان گټه پورته کولی شي نه د افغانستان ولس. د افغانستان جنگ ځپلی ولس له حامد کرزي، نورو لوړ پوړو چارواکو، سیاسي مشرانو، د پارلمان او مشرانو جرگې له غړو څخه جدي غوښتنه لري چې د خدای په خاطر نور ملت د ابهام لدې تورو تیارو نه راوباسئ. د خپلو شخصي گټو د تأمین پرځای د هېواد او ولس گټو ته لومړیتوب ورکړئ. هر هغه څوک چې واقعاً د افغانستان او د افغانستان د غیرتي ولس دښمنان دي هغوی په یوه خوله رسوا او پرخلاف یې گډ دریځ اعلان کړئ، تر څو د افغانستان وگړي په منسجم ډول له شتو ستونزو څخه د نجات په موخه گامونه پورته او خپله مخه خلاصه کړي. افغانانو په ټولټاکنو کې ولسمشر او د پارلمان او مشرانو جرگې غړي دی مقصد لپاره منتخب کړي دي چې د افغانستان د روښانه برخلیک د ټاکلو لپاره گډ کار وکړي او د ولس په وړاندې شفافه پالیسي کېږدي نه دا چې دوی پخپلو کې د یو بل پرخلاف د کوټکو گوزارونه وکړي او یو بل په وطن دښمنۍ تورن کړي. د افغانستان چارواکي او په مجموع کې ټول سیاسي مشران، د پارلمان او مشرانو جرگې غړي دی دا حقیقت ومني چې د افغانانو برې د یو معلوم او غښتلې دریځ پخپلولو کې دی نه په مبهم او گونگ دریځ کې. ښه به دا وي چې نور د غفلت له خوبه بیدار او د ملت په وړاندې واضحه نقشه کېږدي، دښمن هم تعریف کړی او دوست هم، تر څو ملت خپله قبله وپیژني او د تذبذب له حالت نه خلاصون بیا مومي، که داسې نه کوي: نو هېواد یو خطرناک او ناڅرگند لوری ته روان دی چې ددې ټولو عواقب به د همدوی په غاړه وي او ولس به تر ېنه ضرور حساب اخلي.

فدا محمد فایض

آیا حادثهٔ اخیر وزیر اکبرخان مینه آغاز رقابتهای جدید استخبارات منطقوی نیست؟

افغانستان از تقریباً چهار دهه به اینسو شاهد یک جنگ خونین است. این جنگ کشور ما را به دهنهٔ سقوط نزدیک ساخته است. بنده زمانی که بار اول کتاب سقوط افغانستان تألیف عبدالصمد غوث معین سیاسی وزارت خارجهٔ زمان جمهوریت داوودخان را می خواندم. مو بر بدنم راست شد؛ زیرا در مورد سقوط کشور مألوفم مطالبی را در آن میخواندم؛ ولی از آن زمان تا اکنون که خود شاهد عینی حوادث این چهار دههٔ گذشته بودم خیلی از مسایل را درک مینمایم.

داوودخان اگر هر نوع تعریف شود، از خدمات او در زمان صدارتش (۱۳۴۲ - ۱۳۳۲) حرف زده شود و یا از وطندوستی او؛ ولی حقیقت آن است که عقده ها او را غرض انتقام گیری از محمد ظاهرشاه خسربره و پسر عمش آماده ساخت تا به کمک اعضای حزب دموکراتیک مخصوصاً پرچمیها، اعضای «کا. جی. بی» و «جی. آر. یو» دست به کودتا بزند؛ ولی او خیلی زود ثابت ساخت که خواسته یا نخواسته در چنگال «کا، جی. بی» قرار گرفت و زمانی که درک کرد که دستان و پاهای او توسط زنجیرهای «کا، جی. بی» بسته شده است در تلاش نجات خود ازین زنجیر پیچ برآمد؛ اما دیدیم که بر او دیر شده بود. او در آخرین هفته های اقتدارش به دو تن از دوستان نزدیک خود اعتراف کرده بود که او همه چیز را احساس میکند؛ اما دو راه پیش رو دارد: یا اینکه با خانوادهٔ خود در یک طیاره نشسته فرار کند و یا اینکه تن به تقدیر در دهد تا هر چه بادا باد و او همین راه اخیر را برگزیده است. چنانچه همان سان هم شد و بهای اشتباه خود ناشی از عقده ها را پرداخت.

بعد از کودتای هفت ثور ۱۳۵۷ «کا، جی، بی» در افغانستان حضور مستقیم و آشکار داشت و حتی مهره های خود را بدست خود یا به کام مرگ می فرستاد و یا اینکه یکی را توسط دیگری تعویض میکرد؛ سرنوشت نور محمد تره کی، حفیظ الله امین و ببرک کارمل پیش روی ما قرار دارد.

بعد از شکست روسها و سقوط کمونستهای داخلی و علی الظاهر بقدرت رسیدن مجاهدین هم نتوانست که دست استخبارات کشورهای بزرگ و کشورهای همسایه و منطقه را از افغانستان کوتاه سازد. زمان اقتدار طالبان هم ازین امر استثنایی ندارد و از ۲۰۰۱ به اینسو که امریکا و ناتو و حلیفها[illegible] از ناتوی امریکا به افغانستان امد[illegible]، مسلماً که همراه با استخبارات خود آمدند، اینکه امریکا در افغانستان بدون سی آی ای (CIA) و انگلستان بدون حضور ام. آی. سکس (MI6) و یا کشورهای دیگر بدون حضور استخبارات کشور خود در کشور ما حضور نظامی، سیاسی و اقتصادی داشته باشند خواب و خیالی بیش نیست.

این حقیقت را نباید فراموش کنیم که بازی استخباراتی در افغانستان بعد از ۲۰۰۱ بیش از پیش پیچیده شده است؛ زیرا علاوه بر کشورهای عضو ناتو و یا کشورهای بیرون از ناتو که در افغانستان حضور نظامی دارند. کشورهای دیگر منطقه با آنکه در افغانستان حضور نظامی ندارند؛ ولی از لحاظ استخباراتی حضور دارند. گرچه بعد از وقوع یک حادثه افکار عمومی جامعهٔ ما بسوی تنها کشورهای همسایه معطوف میگردد. گرچه هدفم این نیست که افکار عمومی را ازین مسأله بسوی دیگر معطوف دارم؛ ولی اینکه ما هر مسأله را به همان یک جهت نسبت دهیم. خیلی از حقایق را از نظر ما پنهان میسازد.

شب هفتهٔ گذشته که فردای آن ۲۸ جدی ۱۳۹۲ بود حمله یی بر ظاهراً یک هوتل لبنانی در وزیر اکبرخان مینه صورت گرفت. درین حمله بیست و یک نفر شامل افغانها و غیر افغانها کشته شدند و تعدادی هم مجروح گردیدند. گرچه مسؤولیت این حادثه را طالبان بر دوش گرفتند؛ ولی شورای امنیت ملی این حادثه را بالاتر از ظرفیت و توانمندی طالبان دانست. در جلسه یی که بتاریخ ۲۹ / ۱۰ / ۱۳۹۲ تحت ریاست رئیس جمهور حامد کرزی تدویر یافت. گفته شد که دستهای خارج از مرز کشور درین حادثه دخیل بود. در جلسه این هم گفته شد که تحقیقات مزید و دقیقتر از آنچه صورت گرفت در جریان است که نتایج آن هم زودتر معلوم خواهد شد. افواهات حکایت از آن دارد که درین حمله از موادی کار گرفته شده که خیلی پیشرفته است که تشخیص دقیق آن شاید برای کارشناسان مربوطه کشور هم تا حدی دشوار باشد. اگر این افواه درست باشد دولت مجبور است که از متخصصین بیرونی کمک بطلبد؛ ولی رسانه ها حتی بشمول رادیوهای جهانی تنها اشاره به یک کشور همسایه افغانستان داشتند که شاید این یک تلاش به بیراهه کشانیدن افکار عمومی جامعهٔ ما باشد و یا اینکه این موضوع را ناآگاهانه به اصل موضوع پیوند داده باشند.

گرچه به اصل حقایق مقامات امنیتی کشور خواهند رسید. زیرا درین رابطه تحقیقاتی صورت گرفت و آنچنان که شورای امنیت کشور اطلاع داد که تحقیقات مزید درین رابطه ادامه دارد که باید منتظر نتایج این تحقیقات باشیم؛ ولی معلوم نیست که آیا امنیت ملی نتایج این تحقیقات را هم علنی و آشکار اعلان خواهد کرد یا نه؛ زیرا هر مسأله قابل به اطلاع رساندن افکار عمومی نمیباشد. بنده تا جایی که حوادث و جریانات را تعقیب میکنند و به اصطلاح تا جایی که عقلم قد میدهد فکر میکنم که این حادثه آغاز یک بازی جدید رقابتی بین قوتهای منطقه باشد و این یک اقدام جدید است که دولت افغانستان را به یک سبارزه جدید با این رقابتها و فعالیتهای استخباراتی می طلبد. آنچه بارها گفته شده که در عقب چنین حوادث چه دستی در کار است طوری که قبلاً هم گفته شد. جای تردید ندارد؛ اما این مسأله باید افغانها را از آغاز بازیهای جدید اغفال ننماید.

مشکل اساس افغانستان همین است. بنده خود از حضور آشکار کشورهای ناتو وغیره آنقدر هراس ندارم؛ زیرا می بینم که قوای خارجی اند و بخاطر تعقیب اهداف ستراتیژیک خود در منطقه که بقول دکتور زبرکیار در کتاب «د نوي سیاست الجبره» بیست و چهار کشور را شامل میشود. اما ترس زیاد از دشمن پنهانی به کار است. آنچه را استخبارات بیرونی انجام میدهند بیشتر آن دورتر از انظار عمومی و حتی اکثر و بیشتر دورتر از انظار دولت ما میباشد. اگر دولت به آن پی هم ببرد شاید بخاطر مصلحتها نتواند آنرا آشکار کند و این مشکل را تنها افغانستان نه بلکه کشورهای دیگر بخصوص کشورهای همسایه و منطقه هم دارند. دیدیم که نتایج تجزیه کشورهای خود را نتوانستند آشکارا اعلان کنند. رؤسای جمهور کشته شدند؛ ولی نتایج آن اعلان نگردید. اینکه روی چه مصلحتی همان حرف شاعر است که:

رموز سلکت خویش خسروان دانند

رقابتهایی که در منطقه وجود دارد و از دهه ها جریان دارد. خیلی پوشیده هم نیست. این رقابتها شامل سرزمینها، شامل آبها، شامل منافع سیاسی و اقتصادی و شامل رقابتهای ایدیولوژیک میشود و در بسا موارد رقابتهای سیاسی، اقتصادی و ایدیولوژیک با هم گره نیز میخورند. من فکر میکنم حادثهٔ اخیری که در وزیر اکبرخان مینهٔ کابل رخ داد از همین قماش باشد. برخی از کشورها با درنظرداشت پیشینهٔ تاریخی و موقعیتهای کنونی هر کدام سعی دارند تا سیادت خود کم از کم در منطقه را تثبیت کنند و حریفان منطقوی را به عقب برانند؛ ولی حریفان هم هر چند مدتی در خواب غفلت فرو رفته باشند، بالاخره بیدار میشوند و سعی میکنند حرکتها و سیاستهای جانب مقابل را مهار کنند.

این بازیهای استخباراتی تا خیلی پنهان و غیر محسوس هم نمیمانند. کم از کم حریفان دربین خودمیدانند؛ ولی جای تأسف این است که افغانستان جنگ زده زیر سم ستوران آنها تا مدتها خرد و خمیر خواهد شد و ملت مظلوم ما هر روز شاهد چنین حوادث خونین در کشور خود خواهد بود.

امریکایي پوهنتون او فکري نیواک

لیکنه: شریف عبدالعزیز الزهیري
ژباړه: حکمت امرخیل

"داسې ښکاري، چې نن سبا تعلیم پوره سوداګریزه معامله ده " پردې خبره په افغانستان کې دامریکایي پوهنتون درهبرۍ شورا غړي (کریس ټایلور) په فارن پالیسي مجله کې مهمه لیکنه کړې ده ، ټایلور په افغانستان کې دامریکایي پوهنتون درول پر ارزښت خبرې کړې دي او هڅه کوي امریکایي پانګوال وهڅوي، چې په دې پوهنتون کې ۸۰ میلونه ډالرپانګونه وکړي او دا دېښځو راتلونکو کلونو لپاره د پوهنتون اټکل شوې بودیجه ده.

امریکا ،چې په افغانستان کې یې لس کاله نظامي شتون درلود ، مادي او بشري زیان یې وګاله اوس دې پایلې ته رسیدلې دي، چې په افغانستان کې د نظامي شتون پر مټ خپلو موخو ته نه شي رسیدای؛ نو پریکړه یې وکړه ،چې دنړۍ په دې حساسه سیمه کې خپلو موخو ته درسیدو لپاره بله لار غوره کړي. له همدې ځایه دامریکا په ستراتیژۍ کې یو بدلون رامنځته شو او د (ځیږ ځواک پر ځای اوس پوست / نرم ځواک) کاروي دا تګلار له سرکښو ملتونو سره اړخ لګوي.

دهارورډ پوهنتون استاد (جونای)، چې د نرم / پوست ځواک نظریه یې رامنځته کړې ده وایي : نرم ځواک هغه وسیله ده ،چې دجذب پر مټ خپلې پایلې تر لاسه کوئ نه د زور او اړ ویستلو له لارې . تعلیم په دې برخه کې ډېر اغیزناک دی ، تعلیم تل دنفوذ وسیله او وسله ده ،چې وروسته بیا خپله فکري ، کلتوري او ټولنیز نیواک ته لار هواروي.

امریکایي پوهنتون ددې لپاره جوړ شوې دی ،چې دتعلیمي چتر لاندې (عیسوي ټولنه) وي دهمدې موخې سربېره دا پوهنتون هڅه کوي ،چې داسې ځوان نسل وروزي ،چې کلتور او طرز تفکر یې امریکایي وي او سبا دهېواد واکې وروسپاري . دلته به امریکایي نیواک په ډېر لګښت پاتې وي. دوی به دنیواک استازي وي.

دې ډول سیاستونو او پروګرامونو په منځني ختیځ کې خپل اغیز وار له مخه ښندلی دی . دا پروګرام لومړی په مصر او لبنان کې عملي شو. په منځني ختیځ کې ،چې اوس ځومره سیاستوال فعال دي ډیری یې په سیمه کې له امریکایي پوهنتونونو فارغ شوې دي.

په علمي ،اکاډیمیک ډګر کې امریکایي پوهنتونو عربي او اسلامي نړۍ داسې کوم څه نه دي کړي ،چې دیادونې وړ دې وي. په پلازمینه القاهره او بیروت کې دامریکایي پوهنتون یوه پیړۍ پوره شوه؛ خو په مسلکي برخه کې یې یو عالم / پوه زموږ ټولنو ته نه دی وړاندې کړې او نه یې څه مهمه لاسته راوړنه درلودلې ده.

ددې پوهنتون څېړنیز کار او پایله هم دنیواکګرو موخو لپاره کارېږي.

په سیمه کې تر ټولو لرغونې پوهنتون ددې کرښو تر لیکلو پورې ایله دوه څېړنیز مرکزونه لري ،چې یو یې په ۱۹۵۱ ز کې دټولنیزو څېړنو مرکز په نوم او بل دالصحراء څېړنو مرکز په نوم جوړ شوی دی . دپوهنتون نور ټول فعالیتونه عیسویت ته درابللو لپاره دي . دپلازمینې القاهرې په بېوزله سیمو کې دخیر ښېګڼې او مرستې چارې ترسره کوي او خپلو موخو ته کار کوي. پردې سربېره په هغو سیمو کې، چې هلته بېسوادي ، بېوزلي او ناروغۍ ډېرې وي دا پوهنتون شکمنې چارې ترسره کوي ښه بېلګه یې (منشیة ناصر او الدویقة) دي.

کېدای شي دا پوهنتون ځینې خارګر فعالیتونه هم ترسره کړې وي. ویکیلیکس په ۲۰۱۰ ز دامریکا ددفاع او مالیې وزارتونو داسې لاسوندونه خپاره کړل ،چې له مخې یې دپنټاګون او امریکایي پوهنتون ترمنځ دخارګرۍ تړون لاسلیک شوی و، چې پوهنتون به دڅېړنیز بحث تر نامه لاندې دمصرۍ ټولنې په اړه حساس معلومات راټولوي.

په افغانستان کې امریکایي پوهنتون په ۲۰۰۴ ز کې دیو شمیر سوداګرو ، مخورو افغان شخصیتونو لخوا جوړ شو. له نورو تعلیمي ادارو سره دپوهنتوني زده کړو ، لوړو زده کړو ، دمسلکي پراختیایي نصاب په برخه کې خپلې هڅې شریکوي. پوهنتون پښتانه ، تاجک ، هزاره ، ازبک ، ترکمن او نور په مساوي توګه راجذبوي، چې په افغاني ټولنه کې دامریکایي مفهوم له مخې دګډ ژوند چاپیریال رامنځته کړي.

د۲۰۱۱ ز په می کې له امریکایي پوهنتون څخه په لومړۍ دوره کې ۳۲ تنه فارغ شول، چې ۹ تنه یې ښځې وې دوه یې په امریکا کې دزده کړو لپاره بورس هم ترلاسه کړ. په ۲۰۱۲ ز په دویمه دوره کې ۵۲ تنه فارغ شول ،چې شپږ تنه یې دنورو زده کړو لپاره امریکا ته واستول شول . دیادونې ده ،چې امریکایي پوهنتون ته دنارینه مراجعینو په پرتله دښځینه هغومراجعه ۲۵٪ زیاته ده.

امریکایان دومره دافغانستان دیارغونې او جوړولو په کېسه کې نه دي لګه ځومره ،چې دیوافغان نسل په روزنه کې دي ،چې دا کاواکه هېواد کنترول کړي ، جوړښت او هویت یې وربدل کړي . دا روزنه به داسې وي ، چې په سیمه کې دامریکا له ګټو سره اړخ ولګوي . دا نسل به افغان تابعیت لري ، خو فکر به یې امریکایي وي ، رنګ او ژبه به یې افغانی وي ، خو طرز تفکر او تګلار به یې امریکایي وي.

اوس نو امریکا اړه ده، چې له ۲۰۱۴ ز وړاندې په افغانستان کې خپلې ستراتیژۍ ته بیا کتنه وکړي . په کابل کې دامریکایي پوهنتون په اړه (کریس ټایلور) وایي : زموږ موخه دافغان مشرتابه دنوی نسل روزنه ده ،چې نوي افکار به وړاندې کوي ، له بنسټپالنې او فساد سره به مبارزه کوي ، دسړي او ښځې ترمنځ به مساوات مني ، داوږدمهال لپاره به سیمه ییزې اړیکې رامنځته کوي ، دافغان ځوانانو غږ به اوري؛ ځکه دوی دهېواد ګانده (مستقبل) دي، منځلارې او ازاده ټولنه به جوړوي دا به داسې ټولنه وي ،چې له امریکایي ګټو او تګلارو سره به اړخ لګوي.

جګړه لنډ مهاله تېروتنه؛ خو سوله دائمي اړتیا ده

محمد خلیل

دا حقیقت د لمر په څېر څرګند دی چې د هېواد د امن ، استحکام ، پرمختګ او ثبات لپاره د ولس ترمنځ یووالي او همغږۍ لومړنۍ بنسټیزه اړتیا ده ، تر څو پورې چې په ولس کې ملي یووالي ، همغږۍ او اتفاق موجود نه وي په هېواد کې سوله ، سوکالي ، امن او استحکام خپلې جرړې نشي مضبوطولې . افغانستان په اوسنیو شرایطو کې تر ټولو ستر ضرورت دا لري چې دغه تیت او پاشل شوی ولس یو بل ته د اتفاق او ورورولۍ غېږه ورکړي. د اسلام د سپېڅلي دین په شمول د نړۍ هېڅ یو قانون او مذهب ددې اجازه نه ورکوي چې د یو هېواد وګړي دې پخپلو کې په دښمنۍ اخته وي او خپل ټول استعداد او ځواک د یو بل په محوه کولو کې مصرف کړي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې په افغانستان کې د ډېرو قومونو او قبیلو ترمنځ د تاریخ په اوږدو کې ډیرې جګړې هم شوي دي او سوله هم ، مګر داسې کله هم نه دي شوي چې ټول عمر دې د دښمنۍ په مورچلو کې ناست وي ، همداراز د ډېرو سکنۍ ورونو ترمنځ هم کله ناکله په ځینو مسایلو کې اخ و ډب رامنځته شوی ؛ خو بیا د سولې او ورورۍ په تغره هم ناست دي ، له روسي اشغالګرو ځواکونو سره د جهاد پر وخت د ځینو جهادي تنظیمونو او ان د یو تنظیم د قومندانانو ترمنځ هم کله ناکله وسله وال جنګونه او مرګونه شوي دي ؛ خو د نړۍ په هېڅ یو قانون کې دا نشته چې دغه جنګونه او اختلاف دې د قیامت تر ورځې پورې جاري وساتل شي؛ بلکې د اسلام د سپېڅلي دین حکم دا دی چې د اختلاف دغه لړۍ ته ژر تر ژره د پای ټکی کېږدي او پخپلو کې د اتفاق او ورورولۍ پر تغر کیني ، لکه چې الله جل جلاله پخپل **سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې فرمایلي دي چې: که له مؤمنانو څخه دوه ډلې پخپلو کې سره جګړه وکړي؛ نو دهغوی ترمنځ سوله وکړئ، د مؤمنانو ترمنځ جګړه یوه عارضي تېروتنه، خو سوله دائمي اړتیا ده، ځکه خو جنګ جګړه مردوده او سوله مطلوب عمل دی.** حزب اسلامي افغانستان چې له جمعیت اسلامي او وحدت اسلامي افغانستان سره د اتفاق او ورورګلوي کوم عملي ګام اوچت کړی دی ، الله جل جلاله ، دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم او مسلمان ولس ته خوښ عمل دی ، په دې باندې اعتراض کول نه اسلامي صبغه لري او نه هم منطقي ، موږ پخپلو سیمو کې وینو چې کله هم دوه مرور ورونه ، یا مخالفین پخپلو کې سره روغه جوړه کوي او د ورورۍ په صف کې ودرېږي ؛ نو د خوښۍ خیراتونه کوي او خلک ورته مبارکي وایي او کوم خلک چې د دوه مسلمانانو ترمنځ پر اتفاق او یووالي خپګان ښکاره کړي ، خلک ورته په کرکه ګوري ، که له واقعیت نه سترګې پټې نه کړو او مسؤلانه فکر وکړو ؛ نو ددغه درې ګوندیزې اتحاد په قایمولو موږ د افغانستان د خاورې او ولس په ګټه یو نیک ګام پورته کړی او په دې سره مو د افغانستان د ځوریدلي ولس هغه ارمان پوره کړی چې لږ تر لږه د اسلامي ګوندونو ترمنځ د اتحاد او یووالي غوښتونکی وو ، له څه شک پرته په دې هېواد کې ټول اوسېدونکي له څه تمیز پرته یو ډول حقوق لري او ټول یو شان د خپل هېواد معماران دي ، ددوی یووالي او انسجام د افغانستان د سلامتیا او پرمختګ بنیادي ډبره ده ؛ نو ځکه له خپل دین او هېواد سره مینه لرونکي افغانان مسؤل دي چې ددغه اتحاد په پیاوړی کولو کې خپل دیني او افغاني مسؤولیت ترسره کړي ، ځکه چې د اوسنیو ټولو ستونزو یواځنی حل د افغانانو په یووالي کې دی نه په بې اتفاقۍ کې . دا به ځومره لوی حماقت وي چې ټول عمر په افتراق او اختلاف کې تیر کړی شي په داسې حال کې چې همدغه اختلاف موږ دغه حالت ته رسولي یو ، که په انفرادي ډول چا ګټه کړې وي ؛ خو په مجموع کې د افغانستان ټولو وګړو ته لوی تاوان رسیدلی دی.

که موږ غواړو چې خپل استقلال ، هویت ، استحکام ، ملي یووالي او خپل تېر برم ترلاسه کړو ؛ نو لدې پرته بل هېڅ لاره پرمخ نه لرو چې موږ افغانانو ټول دهغو ګوندونو تر شا ودرېږو چې د اتحاد او یووالي لاره تعقیبه کړې او عملاً یو بل ته یې د اتفاق او ورورګلوي لاسونه ورکړي دي.

شهادت
اونیزه
خبروتکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

کابل کې وروستی حمله د بهرنیانو لپاره د وضعیت د بدلیدو یادونه کوي

نیویارک ټایمز ورځپاڼه، په کابل کې خونړۍ حمله د بهرنیانو لپاره د وضعیت د بدلیدو یادونه کوي، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي، د افغانستان لپاره د نړیوال وجهي صندوق د مشر په توګه خنجروابل عبدالله کلونه په دې هېواد کې د مالي سکتورد رسوايیو په اړه خبرنه کوله.
د ملګرو ملتونو لوړ پوړي سیاسي چارواکي ودیم نظروف هم خپل تېر نهه کلونه د افغانستان د جګړې د سوله ییز هواري مسالې ته وقف کړي و.
دهرمندرسینګ فنګورا چې د اروپا د پارلمان په راتلونکو انتخاباتو کې له بریتانیا کاندید و، د یوه مشاور قراردادي په توګه په افغانستان کې و.
نیویارک ټایمز لیکي، دغو درې واړو بهرنیانو د جمعې په ورځ په کابل کې په یوه لبناني مشهور رستوارنت کې دوډۍ خوړله چې په یوه حمله کې ووژل شول.
په دغه حمله کې چې طالبانو یې مسولیت په غاړه اخیستی ټول یویشت کسان وژل شوي چې درې نور بهرنیان، امریکایي اتباع هم په کې شامل دي.
د ورځپاڼې په وینا دغه حمله بهرنیانانو ته چې شمېر یې ښایي اوس شاوخوا زرو کسانو ته ورسېږي یو ځل بیا د افغانستان په جګړه کې چې مخ په ختمیدو ده، د دې هېواد په وضعیت کې د ریښتیني بدلون یادونه او د دې ښکارندویي کوي چې ممکن د نړیوالو کارکونو ژوند له دې زیات له خطر سره مخامخ شي.
نیویارک ټایمز وړاندې لیکي، بهرنیان کلونه کلونه په کابل کې له کوم محدودیت پرته ازاد ګرځیدل، په دې ښار کې د لویدیځ په بڼه رستوانتونو ته تلل او د اونۍ په پای کې یې په محفلونو کې برخه اخیسته. خو د ورځپاڼې په وینا که څه هم د دا ډول حملو کېدل عادي خبره ده خو په هغو کې دومره زیات بهرني ملکي کارکونکي نه دي په نخښه شوي.
د نیویارک ټایمز په وینا په داسې حال کې چې د لویدیځ پوځي ایتلاف په افغانستان کې حضور لري او ښایي حضور یې نور هم دوام وکړي، بهرنیو ملکي کارکونکو ته خطر ښایي له پامه وغورځول شوي.
ټایمز اف مالټا: ټایمز اف مالټا په دې اړه په یوه مطلب کې لیکلي چې:
وسله والو طالبانو په وروستیو میاشتو کې چې نړیوالو ځواکونو افغان امنیتي ځواکونو ته امنیتي مسولیتونه سپارلي، حملې زیاتې کړي دي.
د خبروني په وینا دا په داسې حال کې ده چې د روان میلادي کال تر پایه ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي او په دې هېواد کې د پاتې کېدونکو شاوخوا لس زره امریکايي او د متحدینو شاوخوا شپږ زره عسکرو د پاتې کېدو لپاره هم هغه امنیتي تړون افغان ولسمشر ځنډولی چې امریکایي د ژر لاسلیک کولو غوښتونکې ده.
ټایمز اف مالټا لیکي:
متحدو ایالتونو ویلي چې که دغه تړون ژر لاسلیک نه شي نو به ټول عسکر له افغانستانه وباسي.

افغان حکومت وايي د کابل په ...

خو ښکاري چې د حکومت د انتقاد ګوته بیا هم د پاکستان خوا ته ده ځکه افغان چارواکو په تېرو څو کلونو کې بیا بیا ویلي دي چې د پاکستان پوځي استخبارات د وسله والو طالبانو ملاتړ کوي.
په بیان کې راغلي چې بې له شکه په دې حملو کې د هېواد له پولو هاخوا د استخباراتي ادارو لاس دی ځکه داسې ببچلې حملې طالبان ته شي کولای.
د طالبانو اکثر مشران په پاکستان کې ډېره دي او ځکه د دې هېواد استخبارات تل له دوي سره په همکاري تورنېږي.
د وزیراکبر خان لبناني رستوران د بهرنیانو ځای و او د جمعې په ورځ د برید پر مهال هم زیات شمېر بهرنیان د ډوډۍ لپاره هلته تللي وو. وروسته له دې چې یوه انتحاري ځان په دروازه کې والوزاوه، دوه نور وسله وال رستوران ته ننوتل او له مخې یې پر خلکو ډزې وکړې.
عیني شاهدان وايي چې کېن شمېر کسانو خانونه ترمېزونو لاندې پټ کړل خو درې امریکایان، دوه بریتانویان، دوه کاناډایان، په افغانستان کې د پیسو د نړیوال صندوق رییس او د رستوران لبناني مالک په دې ترڅ کې ووژل شول.
په دیارلسو وژل شویو بهرنیانو کې یوه مېرمن چې د اروپايي ټولنې د پولیسو لپاره یې په کابل کې کار کاوه او همداراز د ملګروملتونو یو روسی مامور هم شامل دي.
دا حمله په تېرو یوولسو کلونو کې په افغانستان کې پر بهرنیو اتباعو ترټولو خونړۍ حمله وه.
ولسمشر حامد کرزي دا حمله وغندله او له ناټو څخه یې یو ځل بیا غوښته وکړه چې په خپلو حملو کې ترووریزم په نښه کړي.
افغان امنیتي چارواکي اوس مهال په دې اړه تحقیقات کوي چې درې تنه انتحاري برید کوونکي څنګه د کابل ښار دې سیمې ته چې کلک امنیتي تدابیر پکې نیول شوي دي ننوتل.

نامزدان شورای ولایتی کابل از تحریم انتخابات هشدار دادند

کابل، رسانه ها:
"مجمع نامزدان شورای ولایتی کابل"، فیصله اخیر ولسی جرگه در مورد گرفتن حق نظارت را، محدود ساختن صلاحیت های شورای ولایتی خوانده و هشدارداد که اگر دراین تصمیم تجدید نظرنشود، انتخابات را تحریم خواهند کرد.
ولسی جرگه، طرح قانون شوراهای ولایتی را در ۷ فصل و ۴۱ ماده، بتاریخ ۲۱ جدی تصویب کرد؛ اما حق نظارت بر کارکردهای دوایرمحلی را در این قانون، به شوراهای ولایتی نداد.
اما امروز نامزدان انتخابات شورای ولایتی کابل، در نشست خبری با انتقاد از این تصمیم ولسی جرگه هشدار دادند که در صورت عدم تجدید نظر ولسی جرگه، انتخابات را تحریم خواهند کرد.
آنان گفتند که اگراین قانون از سوی مشرانوجرگه نیز به همینگونه تصویب گردد، فساد در دوایر دولتی بیشتر شده وشوراهای ولایتی، به شوراهای مشورتی مبدل می شوند و لازم نخواهد بود که برای شوراهای ولایتی، انتخابات صورت بگیرد وبودجه گزاف دراین راستا به مصرف برسد.
سلام الدین جاوید نامزدشورای ولایتی کابل، دراین نشست گفت که ولسی جرگه، باید در مورد این فیصلة خود تجدیدنظر کند؛ در غیر آن ضرورت برای شورای ولایتی محسوس نمیشود.
وی افزود: "اگرشوراهای ولایتی حق نظارت از نهادهای حکومتی را نداشته باشند وتنها بتوانندمشوره بدهند، احتمالاً زمینه فساد گسترده مساعد میشود."
جاوید هشدارداد که اگربه پیشنهاد مجمع شورای ولایتی کابل، جواب قناعت بخش داده نشود ویا در تصمیم ولسی جرگه تجدیدنظرصورت نگیرد، نامزدان شورای ولایتی با موکلین شان، انتخابات را تحریم خواهند کرد.
بلوشه آصفی نامزد دیگر شورای ولایتی کابل، به آژانس خبری پژواک گفت که شوراهای ولایتی به دلیل اینکه با رای مردم انتخاب میشوند ونمایندگان مردم هستند، حق نظارت از عملکرد ادارات حکومتی را دارند و فیصله ولسی جرگه دراین زمینه نادرست است. وی علاوه کرد که اگر این صلاحیت گرفته شود، پس موجودیت شورای ولایتی سمبولیک خواهدبود واصلاً مصرف کردن بالای شورای ولایتی وانتخابات، بی معنی است.
قرار است که انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی، در ۱۶ حمل ۱۳۹۳ برگزار شود.
حمیده وردک صدیقی نامزد دیگر وعضوجامعه مدنی نیز گفت که صلاحیت ومبارزه ای را که نمایندگان شورای ملی میکنند، نمایندگان شورای ولایتی نیز همانگونه صلاحیت دارند ومیتوانند از آن استفاده نمایند؛ اما متاسفانه یگانه چیزی راکه اعضای شورای ولایتی تاکنون درک نکرده و نادیده گرفته، صلاحیت های شان بوده است.
این نامزد شورای ولایتی گفت: "خاموشی وکلای شورای ولایتی، باعث گردید که ولسی جرگه چنین فیصله ای نماید؛ اما من فکر میکنم که این سروصداهای نامزدان نیز به جایی نخواهد رسید."
این در[illegible] که در مادهٔ ۱۳۹ قانون اساسی [illegible]یت نظارت به شوراهای ولایتی داده نشده است.
دراین ماده آمده است: "شورای ولایتی در تأمین اهداف انکشافی دولت و بهب[illegible] امور ولایت به نحوی که در قوانین تصریح می گردد، سهم گرفته و در مسایل مربوط به ولایت مشوره می دهد."

وزرای خارجه ۲۸ کشور اروپا...

بین فعالیت های این سازمان ها و نیرو های امنیتی فرق گذاشته شوند
متهیاس موگي عضو بورد اداره جهانی مبارزه با گرسنگی آلمان که روز پنجشنبه در یک نشست خبری در برلین پایتخت آلمان در مورد افغانستان بعد از خروج نیرو های بین المللی صحبت می کرد گفت:
"اگر تصور شود که کار ما مشترک است، این یک تهدید برای فعالیت های ما خواهد بود. ما نمی خواهیم که با نیرو های نظامی اشتباه گرفته شویم."
رینتو فریک هماهنگ کننده، سازمان دو کتوران بدون سرحد در افغانستان همچنین ابراز امیدواری کرد که میان فعالیت های نظامی و فعالیت های سازمان های غیر دولتی فرق گذاشته شوند.
با آن هم تعدادی از این سازمان ها کمکی بعضاً از خود می پرسند که پس از خروج نیرو ها بخصوص زمانیکه آنها در امتداد کوه های هندوکش در مرکز افغانستان و شمال پاکستان فعالیت کنند، چه بر سر آنها خواهد آمد؟
بر اساس گزارش، همه آنانیکه در سازمان های کمک رسانی در افغانستان کار می کنند به این باور نیستند.
کلوز لوهمن هماهنگ کننده، منطقوی سازمان جهانی مبارزه با گرسنگی می گوید، مداخله، ناتو در فعالیت های کمک رسانی کدام صدمه وارد نکرده است.
او گفت: "ما نمی خواهیم بگویم که مداخله، ده سال گذشته ناتو در تلاش های ما یک چیزی بد بوده است."

بریتانیا به تعهدات اش در ...

بر تعهدات شان در برابر افغانستان پابند خواهند بود و همکاری های آنان هم با این کشور درازمدت اند.
معظم ملک سرپرست اداره، بین المللی انکشافی دولت بریتانیا برای افغانستان و پاکستان توافقنامه، امنیتی و دفاعی کابل و واشنگتن را به خاطری مهم می داند که به گفته، او این کشور برای آموزش سربازان اش به کمک های مالی جامعه، جهانی نیاز دارد:
"ما فکر می کنیم که توافقنامه امنیتی و دفاعی برای آینده افغانستان بسیار مهم است اما هر گاه این توافقنامه امضا شود یا نه، برنامه ما این است که ما به همکاری های خود ادامه می دهیم.
چیزی که بسیار مهم می باشد این است که نیرو های امنیتی افغان به کمک های زیادی مالی جامعه جهانی نیاز دارند و این کمک مالی به مشارکت افغانستان با امریکا وابستگی دارد."
این مقام های بریتانیایی همچنان وضعیت امنیتی افغانستان را نگران کننده خوانده و می گویند که مشکلات چند دهه، گذشته در این کشور در مدت اندک حل شده نمی تواند.
وی تاکید دارد این احتمال رد شده نمی تواند که در آینده هم در افغانستان چنین شرایط باشد.
این در حالی است که چندی پیش مقام های امریکایی هشدار دادند، در صورت امضا نشدن توافقنامه، امنیتی و دفاعی امریکا و افغانستان تعهدات همکاری ها در کنفرانس های توکیو و شیکاگو برای افغانستان عملی نخواهند شد.
به گفته، آقای ملک به اساس خواست حکومت های افغانستان و جاپان قرار است در ماه سپتمبر سالجاری میلادی رهبران ناتو در یک نشست در بریتانیا در مورد افغانستان صحبت کنند.
این مقام بریتانیایی برگزاری این نشست را برای آینده افغانستان یک فرصت خوب می داند:
"در ماه سپتمبر سال روان ما با سران کشور های عضو ناتو در بریتانیا یک نشست داریم که در این نشست روی آینده و نیازمندی های افغانستان بحث می شود.
دو یا سه ماه پس از آن یک نشست انکشافی دیگر برگزار می شود.
این دو نشست برای حکومت جدید در افغانستان یک فرصت خوب می باشد تا برای آینده کشور یک اجندا و پالیسی را تهیه نماید و با جامعه جهانی در بخش همکاری های دو جانبه تعهدات جدید نماید."
به گفته، سرپرست اداره، بین المللی انکشافی دولت بریتانیا برای افغانستان و پاکستان در جریان چند روز گذشته وی با شماري از نامزدان انتخابات ریاست جمهوری سال آینده در افغانستان نیز دیدار کرده و با آنان در خصوص مسایل مختلف مانند امنیت، اقتصاد و فساد صحبت نموده است.
آقای ملک تاکید دارد که این نامزدان نباید تنها بر صحبت های عمومی اکتفا کنند بلکه برنامه های مشخص را تهیه، نموده تا بتوانند مشکلات موجود در افغانستان را برطرف سازند.

امنیتي تړون ته همدا اوس ...

اړتیا لري چې افغانانو ته وضاحت ورکړي، چې افغانان تري یې برخې دي.
ښاغلي کریستل وویل د هېواد پوځ یې د باور جوړولو لپاره کافي کار نه دی کړی.
امریکا او نور متحد هېوادونه یې له افغان دولت څخه غواړي چې د کابل او واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون ژر تر ژره لاسلیک کړي، خو ولسمشر حامد کرزی وايي دغه تړون به تر هغو نه لاسلیکوي، چې امریکا د افغانستان شرایط نه وي منلي.
د افغانستان په شرایطو کې د سولې د خبرو عمل پیلول، د افغانانو پر کورونو د بهرنیو ځواکونو د چاپو مخنیوی او نور مسایل شامل دي.

کندهار کې د آیساف ځواکونو ...

د دوشنبې پر ورځ له غرمې وړاندې شاوخوا یولس بجې د آیساف ځواکونو پر اډې بلندې شوی دی. هغه وايي د برید کوونکو شمیر نهه تنه و، چې لومړی یوه تن د اډې مخې ته ځان والوزاوه او اته نورو یې اډې ته د ننوتو هڅه کوله چې له امنیتي ځواکونو سره په نښته کې ووژل شول. ښاغلي جمال اغا وویل چې برید کوونکو د آیساف ځواکونو جامې اغوستې وې او له بهرنیو ځواکونو سره یې نږدې پنځلس دقیقې نښته وکړه.
بله خوا د کندهار د والي دفتر څخه راغلي راپورنه وايي، چې په دغه پېښه کې یوانځې یو د آیساف ځواکونو سرتېری وژل شوی دی.
طالبانو د برید پړه پر غاړه اخیستې ده.
ژړی ولسوالي د کندهار په ۲۵ کیلومتری کې موقعیت لري او ویل کېږي، چې په ژړی کې د امریکایي ځواکونو عملیات هم له همدغې اډې څخه طرحه کېږي، چېرته چې د پرون ورځې برید ترسره شوی دی.